# روغتیا اوونیزه

## پرلیــکه خپـرونه

### لومړی پړاو - پنځه څلویښتمه ګڼه

### ۱۴۴۸-۰۲-۰۳

- د واکسین او معافیت نړیوال اتحاد راغلي پلاوي سره د عامې روغتیا وزیر ناسته!
- کاپیسا ولایت ته د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال سفر!
- د وړاندې کېدونکو روغتیایي خدمتونو د نویو بستو د بشپړولو بهیر ارزونې غونډه!
- غوره ولایت کې د دوو بېړنیو ځانګو پرانستل!
- ختیځ کې د پشه خانو د وېش کمپاین پیل!

د ویاندویۍ، اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست




## د ختیځ زون په دریو ولایتونو کې د ماشلومو (پشه خانو) د وېشلو کمپاین پیل شو

یاد کمپیاین د عامې روغتیا وزارت د ملاریا عمومي پروګرام مسؤل ډاکتر حزب الله فطرت او د ننګرهار د عامې روغتیا رئیس مولوي امین الله شریف په شتون کې د ملاریا او ډینګي ناروغیو د مخنیوي په موخه پیل شو.

دغه کمپاین په لومړي پړاو کې د ننګرهار په نازیانو او دوربابا، د کونړ په درې پیچ او د لغمان په علیشنګ ولسوالیو کې پیل شوی، چې وروسته به په تدریجي ډول د یادو ولایتونو ټولو ولسوالیو ته وغځول شي.

(د پلان له مخې به د یاد کمپیاین په ترڅ کې په ننګرهار کې (1,450,000)، په کونړ کې (425,000 او په لغمان کې (48,520) ماشلومي ووېشل شي.

همدارنګه، په ختیځ زون کې د ANC1 خدمتونو له لارې امیندوارو مېرمنو ته د (97,524) ماشلومو د وېش بهیر روان دی او په تورخم کې به راستنېدونکو کډوالو ته د (132,787) ماشلومو د وېش لړۍ هم پیل شي.



## مولوی محمودالله زاهد، رئیس تطبیق قوانین صحی و بررسی وزارت صحت عامه و هیأت تخنیکی همراهش، در جریان سفر شان به ولایت هرات، از مراکز صحی CHC ولسوالی رباط‌سنگی و CHC+ تورغندی نظارت نمودند

در جریان این نظارت‌ها، کیفیت خدمات صحی، روند ارائه خدمات به بیماران، حضور و نظم کاری کارکنان صحی، موجودیت و مدیریت دواها و تجهیزات طبی، وضعیت لابراتوارها، خدمات واکسیناسیون، حفظ الصحه، خدمات صحی مادر و طفل، سیستم ثبت و گزارش‌دهی، نظافت شفاخانه‌ها و رعایت اصول کنترول انتانات، مطابق با معیارهای وزارت صحت‌عامه مورد ارزیابی قرار گرفت. همچنان در این نظارت بر ارتقای کیفیت خدمات، رعایت اصول مسلکی کنترول بیماری‌های ساری، استفاده مؤثر از امکانات موجود و ارائه خدمات معیاری به مراجعین تأکید شد.
همچنان، این هیأت با مراجعین و کارکنان صحی دیدار و گفتگو کرده، دیدگاه‌ها و پیشنهادهای ،آنان را در مورد کیفیت خدمات، نحوه برخورد کارکنان و مشکلات موجود را شنید و بر پاسخگویی شفافیت و رعایت حقوق مراجعین نیز تأکید کرد.




## The Ministry of Public Health signed a contract worth USD 439,416 with the Agency for Assistance and Development of Afghanistan (AADA) to strengthen and expand healthcare services for residents of Herat and Farah provinces.

The contract was signed for a period of 18 months with the aim of improving the quality of healthcare services, increasing access to care, and reducing public health challenges. Under this contract, nutrition services will be provided through 117 health facilities to 157,823 acutely moderately malnourished children and breastfeeding mothers in the two provinces, while employment opportunities will be created for 72 people in the health sector.

Representatives of AADA assured that the project would be implemented over the 18-month period in accordance with all established standards, with special attention given to addressing the healthcare needs of the people.



## د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو مرستیال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني او مل پلاوي کاپیسا ته د سفر په ترڅ کې د یاد ولایت نجراب ولسوالۍ عمومي روغتون څخه نظارت ترسره کړ

د دغه نظارت پر مهال چې د یونیسف اداري استازو هم شتون درلود، ښاغلي مرستیال د نجراب ولسوالۍ عمومي روغتون کې د وړاندې کېدونکو روغتیایي خدمتونو بهیر له نږدې ولید او د خدماتو لا ښه والي، اغېزمنتیا او شته ستونزو حل په اړه یې اړوندو مسؤلینو ته لازمې سپارښتنې وکړې.

د یاد نظارت موخه د ناروغانو د درملنې بهیر، د درملو او طبي تجهیزاتو وضعیت او د روغتیایي خدمتونو کیفیت ارزونه، شته ستونزو حل، د خدماتو کیفیت لوړول او ناروغانو ته د معیاري، اغېزمنو او پر وخت روغتیایي خدمتونه وړاندې کول دي؛ ترڅو د خدمتونو کیفیت لوړ او د ناروغانو لازمه درملنه ترسره شي.



## مسوولان ریاست صحت محیطی وزارت صحت عامه در ناحیه چهارم شهر کابل، به‌منظور پیشگیری از بیماری‌های ناشی از غذاهای کنار جاده، برنامه آگاهی‌دهی عامه برگزار نمودند

هدف از برگزاری این برنامه، ارتقاء سطح آگاهی شهروندان در مورد رعایت اصول صحی هنگام تهیه، خرید و مصرف مواد غذایی بود. در جریان این برنامه، مسوولان ریاست صحت محیطی پیام‌های آگاهی‌دهی را به شهروندان ارائه نموده و از آنان خواستند مواد غذایی را تنها از فروشندگانی خریداری کنند که اصول صحی را رعایت می‌کنند.

همچنان، به فروشنده‌گان هشدار داده شد تا به نگهداری صحی مواد غذایی، پاکی آشپزخانه‌ها، ظروف و محل نگهداری مواد غذایی و نیز محافظت مواد غذایی از گرد و غبار و مگس‌ها توجه جدی داشته باشند تا از صحت جامعه محافظت شده و از بروز بیماری‌ها جلوگیری شود.

از سوی‌هم، مسوولان ریاست صحت محیطی بر نگهداری صحیح غذاهای گرم و سرد ،تأکید کرده و به شهروندان توصیه نمودند که در صورت مشاهده علایم اسهال، استفراغ تب یا درد شدید شکم، بدون تأخیر به نزدیک‌ترین مرکز صحی مراجعه کنند.




## During a visit to Farah Province, the Director of Internal Audit of the Ministry of Public Health, Mawlawi Mohammad Salim Haqqani, and the accompanying technical team met with the Governor of the province, Mullah Mohammad Hafiz Mujahid.

The meeting, attended by several officials from the Farah Provincial Public Health Directorate, focused on improving healthcare services and addressing existing challenges. The Governor of Farah welcomed the delegation and assured that the provincial administration would continue working closely with the central authorities to further strengthen the health sector. He also highlighted that such visits by MoPH officials are important for identifying solutions to challenges and improving healthcare facilities.

The Director of Internal Audit thanked the Governor of Farah for his cooperation and said that they would jointly address challenges, improve healthcare services, and make significant progress in the health sector to better serve the people of the province.



## د عامې روغتیا وزارت د څارنې او پلټنې لوی رئیس، مفتي عبدالقدوس هاشمي په مشرۍ د ګډ نظارتي چک لېست د تطبیق په موخه ناسته ترسره شوه

په دې ناسته کې چې د اړوندو ریاستونو مسؤلینو، تخنیکي او مسلکي استازو شتون درلود، د ګډ نظارتي چک لېست غوره تطبیق، د لا زیات شفافیت تامین، د چک لېست اغېزمنتیا، دقت او همغږۍ پیاوړتیا په اړه بحث او خبرې ترسره شوې. یاد چک لېست چې تر دې وړاندې یې هر اړخیزه بیا کتنه شوې وه، د معیاري کولو په موخه په کې اړین تعدیلات او اصلاحات رامنځته شوي وو او د روغتیا وزارت مقام له لوري تائید شوی هم دی.

د څارنې او پلټنې لوی رئیس وویل: د ګډو نظارتي فعالیتونو موخه د اصلاحاتو عملي کول دي او ټینګار یې وکړ، چې د ګډ نظارت کمېټه به له دې وروسته خپلې چارې په لا زیات شفافیت، مؤثریت، دقت، همغږۍ او له مسؤلیت سره سمې پر مخ وړي.




## هرات ولایت کې 6 روغتیايي کتنځي، د درملو 9 عمده پلورنځي او یو درملتون له روغتیايي قوانینو څخه د سرغړونې له امله وتړل شول

د هرات عامې روغتیا ریاست د څارنې او پلټنې مسؤلینو له لوري د یاد ولایت په بېلابېلو ناحیو کې له یو شمېر روغتیايي کتنځایونو، د درملو عمده او پرچون پلورنځیو څخه نظارت ترسره شو، چې پایله کې یې 6 روغتیايي کتنځي، د درملو 9 عمده پلورنځي او یو درملتون له روغتیايي قوانینو څخه د سرغړونې له امله وتړل شول او 14قلمه غیرمجاز او له نېټې تېر درمل راټول او د له منځه وړلو په موخه ټاکل شوي ځای ته ولېږدول شول.



## Malnutrition Treatment Units for Children Were Constructed and Commissioned in Helmand's Garmsir and Washir Districts at a Cost of AFN 3.7 Million.

The units were established through the efforts of the Helmand Provincial Public Health Directorate, with financial support from UNICEF, at the Garmsir District Hospital and the Maban Pushti Health Center in Washir District. Their purpose is to provide standardized treatment and essential healthcare services for children suffering from malnutrition.



## د ننګرهار غني خېلو ولسوالۍ روغتون کې د رواني ناروغانو د درملنې او مشورې ځانګړی مرکز پرانیستل شو

د دغه مرکز پرانیستې پر مهال چې د ننګرهار عامې روغتیا رئیس مولوي امین الله شریف، د یادې ولسوالۍ د روغتیا مسؤل، یو شمېر نورو مسؤلینو او د سیمې اوسېدونکو شتون درلود، د عامې روغتیا رئیس د ذکر شوي مرکز د ساتنې سپارښتنه ترسره او ولسونو ته یې ډاډ ورکړ، چې د یاد مرکز خدمات به لا پراخه او نورې روغتیایي ستونزې به یې هم حل کړي

یاد مرکز د UNFPA سازمان په مالي او د HealthNet مؤسسې په تخنیکي همکارۍ جوړ شوی دی.




## بیش از 50 قلم ادویه اساسی و ملزمات طبی به ارزش نزدیک به 24 هزار دالر آمریکایی، با حمایت مالی دولت کانادا، به ریاست صحت‌عامه ولایت سمنگان تسلیم داده شد

این کمک به هدف حمایت از سکتور صحت و تأمین نیازهای اولیه و عاجل برای بیماران صورت گرفته است که بر اساس پلان توزیع، به شفاخانه ولایتی سمنگان و شماری از مراکز صحی ولسوالی‌های حضرت سلطان، روی‌دوآب، دره‌صوف بالا و دره‌صوف پایین توزیع خواهد شد تا در راستای بهبود ارائه خدمات صحی مورد استفاده قرار گیرد.



## Officials from the Environmental Health Directorate of the Ministry of Public Health conducted inspections and monitoring visits to several restaurants, barbershops, and schools in Kabul's 10th district.

During the inspections, officials provided the managers and staff of the mentioned facilities with necessary guidance on maintaining cleanliness, hygiene, and safety standards, along with important health awareness information. Hygiene checklists were also completed, relevant regulations were explained, and recommendations were made to obtain health cards for the facility staff.

## د تخار ولايتي تخصصي روغتون سره 2,897,756 افغانيو په ارزښت د 37 قلمو بېلابېلو لابراتواري توکو مرسته وشوه




دغه مرسته د اغاخان مؤسسې له لوري شوې او د روغتون د اداري او مسلکي مسؤلينو په شتون کې د لابراتوار څانگې ته وسپارل شوه، چې د ناروغانو په تشخيص او درملنه کې به ترې اغېزمنه گټه واخيستل شي.

د ولايتي روغتون امر، ډاکټر حيات الله سالار د لابراتوار مسؤلينو ته سپارښتنه وکړه، چې له لابراتواري توکو څخه په سمه او اغېزمنه توگه استفاده وکړي؛ ترڅو د ناروغانو د تشخيص او درملنې بهير لا چټک، دقيق او باکيفيته شي.

## داکتر کریم‌الله حلیمی، رئیس نظارت وزارت صحت عامه، همراه با هیأت مشترک نظارتی، از شماری از شفاخانه‌ها و مراکز صحی ولایت‌های کنر و نورستان نظارت‌های همه‌جانبه نمودند



در جریان این نظارت‌ها که رئیسان صحت عامه این ولایت‌ها، مشاور معینیت عرضه خدمات صحی و نماینده اداره یونیسف نیز حضور داشتند، روند ارائه خدمات صحی، خدمات واکسیناسیون، عملکرد کارکنان صحی، کیفیت خدمات، وضعیت امکانات موجود، خدمات صحی مادر و طفل، تغذیه، خدمات عاجل، لابراتوارها، دواخانه‌ها و سیستم‌های ثبت و راپوردهی مورد ارزیابی قرار گرفت.
هدف از این نظارت‌ها، ارتقای کیفیت خدمات صحی، ارائه خدمات معیاری و به‌موقع به شهروندان و تقویت شفافیت در سکتور صحت عنوان شد تا مشکلات موجود شناسایی و برطرف شده، کیفیت خدمات صحی بهبود یابد، تداوی مناسب بیماران فراهم گردد و نیازهای صحی مردم به‌گونه بهتر تأمین شود.
در جریان این نظارت‌ها، مسوولان و کارکنان مراکز صحی، مشکلات، نیازها و پیشنهادهای خود را با هیأت یادشده شریک ساختند و مسوولان این هیأت اطمینان دادند که برای رسیده‌گی به مشکلات و فراهم‌سازی همکاری‌های لازم، اقدامات لازم صورت خواهد گرفت.
همچنان، مسوولان ولایتی، اجرای چنین نظارت‌ها را در راستای ارتقاء کیفیت خدمات صحی، ارائه خدمات معیاری به مردم و تشخیص و حل به‌موقع مشکلات، مهم و مؤثر دانستند.




## Monitoring of Several Wholesale Pharmacies and Pharmacies Conducted in Herat and Farah Provinces

The inspection was conducted by the monitoring and inspection officials of the Herat and Farah Provincial Public Health Directorates. As a result, five wholesale pharmacies in Herat Province were closed due to violations of health regulations.

Additionally, 1.5 tons of expired and substandard medicines in Herat Province and 130 kilograms in Farah Province were collected and transferred to designated sites for disposal.



## د عامې روغتیا وزارت د تخصصي او ثالثي روغتونونو رئیس، ډاکټر امین الله مومند له مل پلاوي سره په ګډه د علي جناح روغتون څخه لیدنه وکړه

د تخصصي او ثالثي روغتونونو رئیس په دې لیدنه کې د روغتون له بېلابېلو تشخیصیه، معالجوي او اداري څانګو څخه لیدنه وکړه، د روغتیایي خدمتونو بهیر او شته امکانات یې له نږدې وارزول او د چارو لا ښه تنظیم، د خدمتونو د کیفیت لوړولو او شته ستونزو حل په موخه یې اړوندو مسؤلینو ته لازمې سپارښتنې وکړې.

همدارنګه، د یاد روغتون مسؤلینو خپلې ستونزې، اړتیاوې او وړاندیزونه له پلاوي سره شریک کړل، چې د بشپړې رسېدنې او پاملرنې ډاډ ورکړل شو.



## مسوولان ریاست صحت محیطی وزارت صحت‌عامه در ناحیه 12 شهر کابل، به‌منظور جلوگیری از بیماری‌های ناشی از غذاهای کنار جاده، برنامه آگاهی دهی عامه برگزار نمودند

هدف از برگزاری این برنامه، ارتقاء سطح آگاهی شهروندان در مورد رعایت اصول صحی هنگام تهیه، خرید و مصرف مواد غذایی بود. در جریان این برنامه، مسوولان ریاست صحت محیطی پیام‌های آگاهی‌دهی را به شهروندان ارائه نموده و از آنان خواستند تا مواد غذایی را تنها از فروشنده گانی خریداری نمایند که اصول صحی را رعایت می‌کنند.

همچنان، به فروشنده‌گان هشدار داده شد تا به نگهداری صحی مواد غذایی، پاکی آشپزخانه‌ها، ظروف و محل نگهداری مواد غذایی و نیز محافظت مواد غذایی از گرد و غبار و مگس‌ها توجه جدی داشته باشند تا از صحت جامعه محافظت شده و از بروز بیماری‌ها جلوگیری گردد.

از سوی‌هم، مسوولان ریاست صحت محیطی بر نگهداری صحیح غذاهای گرم و سرد ،تأکید کرده و به شهروندان توصیه نمودند که در صورت مشاهده علایم اسهال، استفراغ تب یا درد شدید شکم، بدون تأخیر به نزدیک‌ترین مرکز صحی مراجعه نمایند.




## 12 Tons of Expired, Unauthorized, and Substandard Food Products and Medicines Disposed of in Uruzgan Province

Over the past four months, the Monitoring and Inspection Department of the Uruzgan Provincial Public Health Directorate collected 145 types of expired, substandard, and unlabeled food products, weighing 10 tons, and 58 types of expired and unauthorized medicines, weighing 2 tons, in Tarinkot, the provincial capital. The confiscated items were subsequently destroyed in the presence of the designated committee.



## د عامې روغتيا وزارت پلاوي او يونيسف اداري استازو په لغمان ولايت کې له يو شمېر روغتونونو او روغتيايي مرکزونو څخه هر اړخيز نظارتونه ترسره کړل

دغه نظارتونه چې د عامې روغتيا وزارت ټاکل شوي پلاوي او لغمان عامې روغتيا رياست يو شمېر مسؤلينو له لوري ترسره شول، په ترڅ کې يې د وړاندې کېدونکو روغتيايي خدمتونو بهير، د واکسيناسيون خدمات، د روغتيايي کارکوونکو کړنې، د خدمتونو کيفيت، د موجودو امکاناتو وضعيت، د مور او ماشوم روغتيايي خدمات، تغذيې او عاجل خدمتونه، لابراتوارونه، درملتونونه او د ثبت او راپور ورکوونې سيستمونه وارزول شول.

د يادو نظارتونو موخه د روغتيايي خدمتونو کيفيت لوړول، هېوادوالو ته د معياري او پر وخت روغتيايي خدمتونو وړاندې کول او په روغتيايي سکتور کې د شفافيت پياوړتيا ده؛ څو شته ستونزې حل، د روغتيايي خدمتونو کيفيت لوړ، د خلکو لازمه درملنه ترسره او روغتيايي اړتياوې يې پوره شي.

د ترسره شويو نظارتونو پر مهال د روغتيايي مرکزونو مسئولينو او کارکوونکو خپلې ستونزې، اړتياوې او وړانديزونه له ذکر شوي پلاوي سره شريک کړل او د مسئولينو له لوري ورته د ستونزو حل او همکارۍ ډاډ ورکړل شو.



## آمريت مصوونيت اشعه رياست صحت محيطی وزارت صحت عامه از آنتن های شرکت‌های مخابراتی در ناحيه چهارم شهر کابل نظارت صورت گرفت

در جريان اين نظارت، به مسوولان مربوطه در مورد رعايت مصوونيت صحی، نظافت و حفظ‌الصحه و کاهش و جلوگيری از خطرات ناشی از اشعه‌های مضر، توصيه‌های لازم ارائه گرديد؛ تا صحت مردم محفوظ مانده و فعاليت شرکت‌های مخابراتی مطابق با معيارهای تعيين‌شده انجام شود.



## The Environmental Health Directorate of the Ministry of Public Health conducted a public awareness campaign in Kabul's District 12 to help prevent rabies and reduce the number of animal bite cases.

The campaign was launched under the slogan, "Prevent rabies by washing bite wounds immediately, seeking prompt medical attention, and completing the full course of rabies vaccination." It aimed to raise public awareness about rabies, encourage people to wash bite wounds immediately and seek medical care without delay after an animal bite, and highlight the importance of completing the full course of rabies vaccination.

During the campaign, public health professionals delivered awareness messages, distributed posters, brochures, and other educational materials, answered people's questions, provided health advice, and stressed the importance of immediate wound washing, seeking prompt medical care, and completing the full vaccination course.

## د کابل، لوګر، غزني، میدان وردګ، پروان، کاپیسا، پنجشیر، دایکندي او باميان ولايتونو د عامې روغتيا مسؤلينو سره انلاين غونډه ترسره شوه



په دې غونډه کې چې د عامې روغتيا وزارت د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو مرستيال، ښاغلي مولوي عبدالولي حقاني، يو شمېر مرکزي رئيسانو او د بېلابېلو رياستونو استازو شتون درلود، موخه يې د مرکز او ولايتي ادارو ترمنځ د همغږۍ پیاوړتیا، د شته ستونزو ارزونه او په ولايتي کچه د روغتيايي پروګرامونو د ښه پلي کېدو او پر وخت اجرااتو لپاره د لازمو تدابيرو نيول وو.
په ياده غونډه کې ولايتي مسؤلينو شته ستونزې او غوښتنې له مرکزي مسؤلينو سره شريکې او يو شمېر وړانديزونه يې مطرح کړل او د مرکزي مسؤلينو له لوري ورته ځوابونه وړاندې، د همکارۍ او ستونزو حل ډاډ ورکړل شو.
دغه راز، د اداري سلسلي مراعتولو، پر ټاکلي وخت چارو ته رسېدنې، د لېږل شويو مکتوبونو \پر وخت ځوابولو او يو شمېر نورو مهمو موضوعاتو په اړه هم بحث او خبرې وشوې.
همدارنګه، ښاغلي مرستيال له يو بل سره پر ښې همکارۍ او همغږۍ ټينګار وکړ او ولايتي مسؤلينو ته يې سپارښتنه وکړه، چې خپلې ستونزې او غوښتنې د ولايتونو د روغتيا همغږۍ رياست له لارې له مرکز سره په رسمي ډول شريکې کړي؛ څو ورته مناسبې حل لارې پيدا او پر وخت حل شي.




## حدود 20 تُن مواد غذایی، ادویه و لوازم آرایشی تاریخ‌گذشته و بی‌کیفیت در ولایت بدخشان از بین برده شد

مسوولان نظارت و بررسی ریاست صحت عامه ولایت بدخشان، به‌منظور حفظ صحت شهروندان و جلوگیری از عرضه ادویه و کالاهای غیرمعیاری، در جریان شش ماه گذشته حدود 20 تُن مواد غذایی، ادویه و لوازم آرایشی تاریخ‌گذشته و بی‌کیفیت را جمع‌آوری نموده و با حضور نماینده‌گان ادارات ذی‌ربط، آن‌ها را از بین بردند



## Officials of the Air Pollution Control and Reduction Department of the Environmental Health Directorate of the Ministry of Public Health conducted inspections of various premises in Kabul city to help prevent respiratory diseases and improve air quality.

During the inspections, the relevant checklists were completed, and the owners of the inspected premises were instructed to obtain health cards. They also provided commitments that, going forward, they would not operate without installing smoke filtration systems.

Furthermore, health awareness messages, informational materials, and the air pollution reduction guidelines were explained and distributed to the owners of the premises to ensure that their activities comply with the standards of the MoPH.

## د غور ولایت د لعل او سرجنګل ولسوالیو روغتونونو کې د دوو ټراما سنټرونو پرانیسته ترسره او ګټې اخیستنې ته وسپارل شول



دغه ټراما سنټرونه د یونیسف ادارې په مالي ملاتړ تجهیز شوي او د هر مرکز لپاره د 70 زره امریکایي ډالرو په ارزښت طبي وسایل او تجهیزات برابر شوي دي او د جوړېدو موخه يې د ښېړنیو او معیاري روغتیایي خدمتونو وړاندې کول، د پېښو ټپیانو ته پر وخت او چټکه رسېدنه‌او لرې پرتو روغتیایي مرکزونو ته د ناروغانو د لېږد اړتیا کمول دي.

د غور عامې روغتیا رئیس، شیخ مولوي عبدالواحد حماس د یونیسف ادارې له همکاریو څخه د مننې ترڅنګ، د تجهیزاتو پر اغېزمنې استفادې، د معیاري روغتیایي خدمتونو پر وړاندې کولو او ناروغانو ته پر وخت رسېدنې ټینګار وکړ.

نوموړي د دغو ټراما سنټرونو پرانیسته د ښېړنیو روغتیایي خدمتونو پیاوړتیا او روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسي ښه والي په برخه کې يې د لعل او سرجنګل ولسوالیو د اوسېدونکو لپاره مهم ګام وباله.

## چهار صد کیلوگرام مواد خوراکی بی‌کیفیت و تاریخ‌گذشته در ولایت هرات به‌منظور امحا به محل تعیین‌شده انتقال داده شد




مسوولان نظارت و بررسی ریاست صحت عامه ولایت هرات، در نتیجه نظارت از 26 باب عمده‌فروشی مواد خوراکی در نواحی مختلف این ولایت، 400 کیلوگرام مواد خوراکی بی کیفیت و تاریخ‌گذشته را جمع‌آوری کرده و به‌منظور امحا به محل تعیین‌شده انتقال دادند.

## Essential Medicines, Equipment, and Supplies Worth Nearly AFN 1 Million Donated to the 50-Bed Drug Addiction Treatment Hospital in Ghazni Province



The assistance was provided through the efforts of the Ghazni Provincial Public Health Directorate with financial support from UNODC. It aims to strengthen the hospital's day-to-day operations, improve the treatment environment, address shortages of essential medicines, equipment, and supplies, and ensure the provision of safe, effective, and quality healthcare services for patients receiving treatment for substance use disorders.

## د هېواد د 34 ولایتونو د تغذیې مدیرانو ته د حادې خوارځواکۍ مخنیوي او درملنې ملي لارښود ځلور ورځنۍ روزنیز (ToT) ورکشاپ ترسره شو



دا لارښود چې څه موده وړاندې په رسمي بڼه خپور شو، له پنځو کلونو څخه کم عمر لرونکي ماشومانو او د هغوی د میندو لپاره د حادې خوارځواکۍ د مخنیوي او درملنې خدمتونه تر پوښښ لاندې راولي، چې د بستر او په کور دننه درملیز پروګرامونه بر کې نیسي.
د عامې روغتیا وزارت د عامه تغذیې رئیس، ډاکټر حکمت الله معصومي ګډونوالو ته د ښه راغلاست ویلو ترځنګ، د ورکشاپ جوړولو او ترتیبولو برخه کې د عامه تغذیې ریاست تخنیکي ټیم، یونیسف اداري او تغذیې ملي ټرینرانو له هڅو مننه وکړه او په ورکشاپ کې یې د وړاندې شویو معلوماتو او مهارتونو په عملي کولو او پلي کولو ټینګار وکړ.

په یاد ورکشاپ کې د حادې خوارځواکۍ مخنیوي او درملنې«Prevention and Management of Wasting Guidelines»لارښود ټولې برخې د هېواد په کچه د مجربو استادانو له لوري تدریس او وړاندې شوې.

## پنج مرکز صحی خصوصی در ساحه بیز اکمالاتی شهر جلال‌آباد ولایت ننگرهار به دلیل نقض قوانین صحی مسدود شد



مسوولان نظارت و بررسی ریاست صحت عامه ولایت ننگرهار، از شماری از دواخانه‌ها، لابراتوارها و مراکز صحی واقع در ساحه بیز اکمالاتی مربوط ناحیه چهارم شهر جلال‌آباد نظارت نمودند که در نتیجه آن، 5 مرکز صحی خصوصی به دلیل نقض قوانین صحی و نداشتن اسناد قانونی، مسدود شدند.

## Mawlawi Abdul Wali Haqqani, Deputy Minister for Health Services of the Ministry of Public Health, met with Dr. Hamid Reza, Representative of the Polio Legacy Challenge (PLC).



During the meeting, the two sides discussed the current status of the poliovirus in Afghanistan, strategies for polio eradication, progress achieved, and the challenges that remain. The PLC representative also shared information on the virus with the participants.

The Deputy Minister reaffirmed the Ministry of Public Health's commitment to continued cooperation and coordination to effectively combat the wild poliovirus, stating that the Ministry remains committed to advancing its efforts toward the eradication of polio.



## د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي پراختیا او پالیسۍ مرستیال، ښاغلي ډاکټر محمد حسن غیاثي په مشرۍ، افغانستان کې د وړاندې کېدونکو روغتیایي خدمتونو نویو بستو د بشپړولو بهیر ارزونې غونډه ترسره شوه

دغه غونډه چې د روغتیایي پراختیا او پالیسۍ معینیت کې ترسره شوه، په کې د یاد روغتیا وزارت عمومي رئیسانو، د مقام مشاورینو، یونیسف اداري او روغتیا نړیوال سازمان استازو ګډون کړی وو. په دې غونډه کې د پلان او پالیسۍ لوی رئیس ډاکټر سید رسول منګل افغانستان کې د وړاندې کېدونکو روغتیایي خدمتونو نوې بستې او د هغو د مهمو منځپانګو، د وړاندې کېدونکو روغتیایي خدمتونو د کچو او پراوونو او همدارنګه، د یادو بستو د چمتو کولو ارزښت او منطق په اړه، چې د فرعي کمېټو له لوري ترتیب شوي دي، هر اړخیز معلومات وړاندې کړل.

سربېره پر دې، د یادې کمېټې ارشد متخصص او غړي محمد ایمل قیامي د یو پریزنټېشن له لارې، افغانستان کې د وړاندې کېدونکو روغتیایي خدمتونو نوی سند ګډونوالو ته تشریح کړ، چې د هغوی له لوري وستایل شو او د لا ښه والي لپاره یې خپل نظرونه او وړاندیزونه هم شریک کړل.

د غونډې په پای کې پرېکړه وشوه، چې اړوندې اداري به د پنځو کاري ورځو په موده کې د یاد سند د لا ښه والي لپاره خپل نظرونه وړاندې کړي؛ ترڅو فغانستان کې د وړاندې کېدونکو روغتیایي خدمتونو نوی سند بشپړ شي.




## رئیس تفتیش داخلی وزارت صحت‌عامه، با نماینده گان موسسات همکار دربخش صحت ولایت فراه در نشستی دیدار کرد

این نشست به منظور تقویت هماهنگی، بررسی روند فعالیت‌های صحی و بهبود کیفیت عرضه خدمات صحی، با حضور مولوی محمد سلیم «حقانی» رئیس تفتیش داخلی وزارت صحت‌عامه، داکتر محمدولی احمدزی رئیس ریاست صحت‌عامه ولایت فراه و نماینده گان موسسات همکار بخش صحت، در مقر مقام ولایت فراه برگزار گردید.

در این نشست، وضعیت عمومی خدمات صحی در ولایت فراه، فعالیت‌ها و دستاوردهای موسسات تطبیق‌کننده پروژه‌های صحی، چگونگی هماهنگی میان ریاست صحت‌عامه و موسسات همکار، نظارت از کیفیت خدمات، رسیده گی به چالش‌های موجود و راه‌های بهبود بیشتر خدمات صحی مورد بحث و تبادل نظر قرار گرفت.

رئیس تفتیش داخلی مقام وزارت صحت‌عامه ضمن ابرازقدردانی از تلاش‌های مسوولان صحی و موسسات همکار، بر رعایت اصول کاری، شفافیت، هماهنگی مؤثر، نظارت دوامدار از فعالیت‌های صحی و ارائه خدمات صحی معیاری و با کیفیت برای مردم تأکید کرد.



## The Capacity Building Directorate of the Ministry of Public Health conducted a two-day training workshop on strengthening coordination and managing the Training Needs Assessment (TNA) database.

The training program was conducted with financial support from the ICRC and was attended by Capacity Building Officials and Human Resources managers from all 34 provinces of the country.

The objective of this program was to enhance training coordination, assess training needs, improve information database management, and strengthen the capacity-building process for staff.

Participants in the program received theoretical and practical training on the use of the information database and the registration of training needs.



## د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نورجلال جلالي په خپل کاري دفتر کې د واکسين او معافيت نړيوال اتحاد " گاوي " د افغانستان لپاره مشرې اغلې ويرونيکا ماويا، د روغتيا نړيوال سازمان او يونيسيف سازمان استازو او راغلې گډ پلاوي سره مجلس ترسره کړ

د عامې روغتيا وزير، ښاغلي مولوي نور جلال جلالي د خپلو خبرو په ترڅ کې د لمړنيو روغتيايي خدماتو پر پراختيا او ملاتړ ،د روټين واکسين برخې خدماتو پر لا نورې پراختيا ، د روغتيايي خدماتو برخه کې د روغتيا وزارت پر لمړيتوبونو او د گاوي بنسټ له لورې د تر سره کيدونکو همکاريو اړوند مفصلې خبرې وکړې.

ښاغلي وزير د ښرې ، پوليو او نورو ساري ناروغيو سره مبارزه د عامې روغتيا وزارت له لمړيتوبونو څخه وگڼله او په وينا يې د وقايوي خدماتو تر څنگ د لمړنيو روغتيايي خدماتو پر پراختيا مو هڅې جريان لري ، ښاغلي وزير د واکسين برخې ستراتيژۍ او د روغتيا ملي ستراتيژۍ يادونه وکړه چې په نږدې کې به نهايي او د عمل لپاره له ټولو سره شريکه شي.

راغلې پلاوي د ذکر شويو موضوعاتو اړوند خپل نظريات شريک او په وينا يې چې په دې برخه کې به خپل لازم اقدامات وکړي ، د دوی په وينا افغانستان لا هم د گاوي لپاره لمړيتوب لري چې د روغتيا او معافيت برخه کې به له افغانستان سره دوامداره همکاري ولري.



## برای طلاب مدرسه عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه، برنامه آگاهی‌دهی و پیشگیری از مواد مخدر برگزار شد

این برنامه از سوی مسوولان بخش تداوی و آگاهی‌دهی شفاخانه 1000 بستر ابن‌سینا تداوی معتادین، مربوط ریاست برنامه ملی تداوی معتادین وزارت صحت‌عامه، تنظیم و برگزار گردید.

در این برنامه، در مورد اهمیت آگاهی‌دهی در زمینه مبارزه با مواد مخدر، نقش جوانان در ساختن آینده سالم، اهمیت پیشگیری از اعتیاد، عوامل گرایش به اعتیاد، نقش خانواده‌ها و دوستان در جلوگیری از اعتیاد، راهکارهای مقابله با خطرات از دیدگاه اجتماعی و پیامدها و تأثیرات منفی اعتیاد بر جامعه، برای اشتراک‌کننده‌گان معلومات ارائه شد.

همچنان، مسوولان و استادان این مدرسه از برگزاری چنین برنامه‌ها استقبال نموده و آن را در راستای پیشگیری از اعتیاد و مبارزه با مواد مخدر، مؤثر و ارزشمند دانستند.




## Nangarhar Regional Hospital Receives AFN 3.4 Million Worth of Medicines and Medical Supplies

The donation, provided by Ali Abad Hospital under the Ministry of Higher Education, was handed over to the hospital's pharmacy manager in the presence of Mawlawi Aminullah Sharif, Director of Public Health in Nangarhar, and several other officials.

Expressing appreciation for Ali Abad Hospital's support, the Director of Public Health in Nangarhar instructed the relevant officials to promptly distribute the donated medicines and medical supplies to all departments based on need, ensuring their effective use in the treatment of patients.